Deutsches Rotes Kreuz

SUCHDIENST

د کورنۍ د بېرته یوځای کېدو په تعقیب لاربښوونې

# د ډېټا د خوندیتوب په اړه معلومات

**موندل. وصل کېدل. بېرته یوځای کېدل**
د جرمني د سرې میاشتې د څارنې خدمت (DRK) له هغو خلکو سره مرسته کوي چې د وسله والو نښتو، طبیعي پېښو، تېښتې، بې ځایه کېدو یا مهاجرت له امله له خپلو کورنیو څخه بېل شوي دي. دغه اداره مرسته کوي ترڅو له کورنۍ څخه بېل شوي غړي ومومي، او له خپلې کورنۍ سره یې بېرته په اړیکه کې کړي او بېرته  یې له خپلو کورنیو سره یوځای کړي.

**موږ د خپل کار لپاره څه ډول ډېټا ته اړتیا لرو؟**
د یوه کس د موندلو په موخه، د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت هومره معلوماتو ته اړتیا لري چې د یو کس په اړه یې امکان وي. په دې کې د نوم، د زیږدنې نیټې د اوسېدو د اصلي ځای او د مهاجرت د مسیر اړوند معلومات شامل دي. زموږ د لټون لپاره هغه شرایط هم مهم دي چې له کورنۍ څخه د بېلتون سبب ګرځېدلي دي. سربېره پر دې، د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت د هغه کس د اړیکو معلوماتو ته هم اړتیا لري چې د خپل ورک شوي کس په لټه کې دی او یاده اداره غواړي په دې پوه شي چې پلټونکی کس له ورک شوي کس سره څه تړاو لري. د هغه کس عکس چې پلټنه یې کېږي کولای شي په پلټنه کې مرسته وکړي.

ټول دغه معلومات (د تصویر په ګډون) شخصي ډېټا ګڼل کېږي چې موږ ورته اړتیا لرو ترڅو وکولای شو د پلټونکي او هغه شخص په ګټه چې په اړه یې پلټنه ترسره کېږي اقدام وکړو.

**موږ د کوم مقصد لپاره ډېټا پروسېس کوو؟**
د څارنې خدمت شخصي ډېټا پروسېس کوي ترڅو د ورکو کسانو پلټنه وکړي د هغوی برخلیک مالوم کړي او کورنۍ بېرته سره یوځای کړي.

**آیا ډېټا به دریېیم اړخ ته ولېږدول شي؟**
موږ له شخصي معلوماتو څخه په خورا محرمانه ډول استفاده کوو. کله چې د کوم شخص پلټنه کوو، موږ د پلټنې غوښتنه د موندنې د خدماتو نړیوالې شبکې (د جرمني د سرې میاشتې د موندنې د خدمت او د سرې میاشتنې د نړیوالې کمېټې ټولنې او په بهرنیو هېوادو کې د سرې میاشتې دفترونو او د سره خوځښت ټولنو) ته استوو.  هغه هېوادونه چې د پلټل شوي کس څرک په کې لګېدلی وي، د موندنې د خدمت سیمه ییزه څانګه کوښښ کوي ترڅو د پلټل شوي شخص د ځای په اړه اضافي معلومات ترلاسه کړي. د دغه کار په شرایطو کې ښایي د دې اړتیا وي چې شخصي معلومات له نورو اړخونو سره شریک شي، د بېلګې په توګه

- حکومتي اداري (لکه د مهاجرت مراجع، د نوملیکنې مراجع، زندانونه)
- نړیوال سازمانونه ( د بېلګې په توګه UNHCR، UNICEF، بې پولې ډاکټران، IOM)
- محلِ سازمانونه ( د بېلګې په توګه محلي غیر حکومتي سازمانونه، د بشري مرستو اړوند سازمانونه، د مشورې مرکزونه، له مهاجرینو سره د ځاني مرستو سازمانونه، مذهبي ټولې)
- نور غیر حکومتي نهادونه ( د بېلګې په توګه د ښار/کلي اوسېدونکي، قومي مشران، غیر حکومتي وسله وال ګروپونه)

د تصویرونو په ګډون شخصي معلومات هم کېدی شي د موندلو د هدف لپاره نشر شي:
- په چاپي بڼه ( د بېلګې په توګه پر پوسټرونو، لېستونو یا تصویري کتابونو)
- په برېښنایي یا شفاهي ډول شریکول ( د بېلګې په توګه پر www.tracetheface.org باندې له تصویر سره آنلاین لټون، راډیویي نشرات، پر انټرنېټ باندې د لېست نشرول یا عامې اعلامیې)

ډېټا له نورو اړخونو سره یوازې په هغه صورت کې شریکېږي چې د دې اړتیا وي چې د موندنې د خدماتو اړوند کړنې ترسره کړي. د اړین توافق لیک په چوکاټ کې، تاسو کولای شئ ځینې هېوادونه، نور اورګانونه یا د شخصي معلوماتو خپرول.

**موږ ډېټا د څومره مودې لپاره ذخیره کوو؟**
هغه ډېټا چې تاسو یې موږ ته راسپارئ د هومره مودې لپاره ساتل کېږي چې د ډېټا د پروسېس اړوند د پورتنیو مقاصدو د ترسره کولو لپاره یې اړتیا وي.

**کوم قوانین د ډېټا په تنظیم کې پلي کېږي؟**

هر اړوند کس د ډېټا د خوندیتوب حق لري. د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې خدمت کارونه د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې خدمت د ډېټا د خوندیتوب قانون (DRK-SDDSG) د حکومنو له مخې تنظیمېږي. سربېره پر دې، موږ ستاسو له ډېټا څخه د استفادې پر مهال د عمومي معلوماتو د خوندیتوب د مقرراتو (DS-GVO) د حکومونو او د جرمني د فدرالي معلوماتو د خوندیتوب قانون (BDGS) پر وړاندې مسئول یو. که چېرې زموږ د کار په جریان کې دې ته اړتیا پیدا شي چې ستاسو ډېټا د ځارنې د خدماتو له نړیوالې شبکې سره شریکه کړو، نو بشکېل اړخونه به
د ډېټا د خوندیتوب له عمومي قوانینو څخه پیروي کوي.  موږ غواړو تاسو ته ډاډ درکړو چې ستاسو معلومات به ، د نړۍ په کچه د سرې میاشتې او صلیب سرخ نهاد له خوا خوندي ساتل کېږي.

**تاسو د خپلو شخصي معلوماتو د خوندي ساتلو په تړاو کوم حقونه لرئ؟**

تاسو د دې حق لرئ چې خپلو شخصي معلوماتو ته چې له موږ سره ذخیره دي په وړیا توګه لاسرسی ولرئ. سربېره پر دې، تاسو همدارنګه د دې حق لرئ چې له موږ سره په ذخیره شوو ناسمو معلوماتو کې سمون راولئ. که تاسو نور نه غواړئ چې شخصي معلومات مو له موږ سره ذخیره وي، تاسو کولای شئ موږ ته خبر راکړئ. موږ به بیا ستاسو د معلوماتو د توږلو یا بندولو په تړاو اقدام وکړو. د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې خدمت ته چې کوم توافق لیک سپارل شوی کېدای شي هر وخت په بشپړ یا نیمګړي ډول لغوه شي. لطفاً په یاد ولرئ چې د نړۍ په کچه په پوسترونو، د تصویر په کتابونو یا لېستونو د نشر توافق یوازې د راتلونکو نشراتو لپاره لغوه کېدای شي، نه د هغو کاپیو لپاره چې له وړاندې چاپ شوې دي. لغوه کېدل باید په لیکلې بڼه د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت ته په مونیخ کې په Chiemgaustraße 109, 81549 München پته، یا د برېښنالیک له لارې په [tracing@drk-suchdienst.de](mailto:tracing@drk-suchdienst.de) آدرس سره اظهار شي ( او یا هم د نوم په ذکر کولو سره مسئول مرکز ته).

**تاسو له کوم (مسئول اورګان) سره اړیکه نیولی شئ؟**

که چېرې تاسو د خپلې ډېټا د پروسېس کولو یا د معلوماتو د اصلاح کولو، توږلو یا بندولو په تړاو د خپلو حقونو د پلي کولو په اړه پوښتنې لرئ، نو کولای شئ د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې د خدمتونو له مرکز سره چې د خپلې کورنۍ د بیا یو ځای کېدو د غوښتنې پر مهال مو تماس ورسره نیولی و، په اړیکه کې شئ

ټاپه یا نوم، د ملاتړ د مرکز پته او د تلفون شمېره

که چېرې تاسو نه پوهېږئ چې له چا سره اړیکه ونیسئ، تاسو کولای شئ د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې خدمت له مرکزي دفتر سره تماس ونیسئ:

Deutsches Rotes Kreuz
Generalsekretariat
Team 22/Suchdienst-Leitstelle
Carstennstraße 58
12205 Berlin
تلفون: +49 (0)30 / 8 54 04 -170
برېښنالیک: [suchdienst@drk.de](mailto:suchdienst@drk.de)

تاسو کولی شئ چې د ځارنې خدمت د ډېټا مسؤل سره اړیکه ونیسئ، هغې ته په لاندې پته برېښنالیک استولی شئ:
[datenschutz-suchdienst@drk.de](mailto:datenschutz-suchdienst@drk.de).